# د تَبَرُّکاتو برکتونه

21-January-2020



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښي کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

# د تَبَرُّکاتو برکتونه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ الله

**نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ** (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوکړو)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. دلته دا خبره ياده ساتئ چې د اِعتِکاف نِيَّت صرف د خوراك څښاك يا اُوده کيدلو د پاره کول نه دي پکار بلکه چې مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. "**فتاوىٰ شامى**" کښې دي: که څوك جُمات کښې خوراك څښاك يا اُوده کيدل غواړي نو د اِعتِکاف نِيَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ **ذِکۡرُ الله** اوکړي بيا چې څه غواړي کولے شي (يعني بيا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کيدے شي) که کيدے شي نو د اِعتِکاف د نِيَّت کولو نه پس دولس ځله دُرُود شريف اووائي يا بل يو نيک کار اوکړئ. اِنۡ شَآءَاللّٰه ثواب به مو زيات شي او ورسره ورسره به ستاسو د پاره په جُمات کښې خوراک څښاک او اُوده کيدل وغيره هُم جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرت اَبُو طلحه انصاري رَضِیَ اللهُ عَنۡه **فرمائي**: يوه ورځ مو د سحر په وخت کښې د **الله** پاک د آخري نبي **مُحَمَّدِ عَـرَبِـي** صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مخ مبارك د خوشحالئ آثار

اولیدل، صحابه کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان ترینه د دې د سبب تپوس اوکړو: نو اوئې فرمائیل: الله پاك پیغام رالیږلے دے چې: اے محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو اُمَّتــي چې په تاسو یو ځل دُرود شریف اولولي، [نو] زه به د هغه د پاره لس نیکئ لیکم، لس ګناهونه به ئې مُعاف کړم، لس درجے به ئې اوچتې کړم او هُم دومره رحمتونه به پرې لیږم. [1]

**صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ''**نِيَّةُ الۡمُؤۡمِنِ خَيۡرٌ مِّنۡ عَمَلِهٖ**'' د مُسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دے. [2]

**مَدَني ګل:** نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

**صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د بیان اوریدلو نیتونه

✿ د شروع نه تر آخره پورې به بیان اورم ✿ عِلمِ دِین به زده کووم او په هغې به عمل کووم ✿ چې زده ئې کړم نو نورو ته به ئې هُم زده کووم ✿ د جُمات او د بیان د ادب خیال به ساتم او په ادب به کښینم.

**صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** نن زمونږ د اجتماع د بیان موضوع ده ''د

---

[1]...مُسۡنَدِ اَحۡمد، جلد:5، صفحه:509، حدیث:16352۔

2 (معجم کَبِیر سهل بِن سعد الساعدی...الخ۶، حدیث)

تَبَـرُّکاتو برکتونه". په دې بيان کښې به اورو ❁ تَبَـرُّکات څه ته وائي؟ ❁ په قرآنِ مجيد کښې د تَبَـرُّکاتو د پاره څو او کوم کوم ټکي استعمال شوي دي؟ ❁ د تَبَـرُّکاتو مُتَعَلِّق د خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تعليم ❁ د تَبَـرُّکاتو يو څو برکتونه. د دې نه علاوه به نور هُم ډير اهم معلومات د اوريدلو سعادت حاصلوو. په ډيره تَوَجُّه او د زړه په حاضرئ سره پورا بيان د اوريدلو د سعادت حاصلولو کوشش اوکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه د ډيرو معلوماتو خزانه به په لاس درشي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د تَبَـرُّکاتو تعريف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د اللّٰه پاك محبوبو بندګانو سره نسبت لرونکي څيزونو ته تَبَـرُّك وائي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان نه واخله تر اوسه پورې د اسلامي مُعاشرے معمول دے چې مسلمانان د تَبَـرُّکاتو ادب کوي او د دې نه برکتونه حاصلوي. د اوليائے کرامو جامے مبارکې، د هغوئي د جامو تار، د هغوئي عمامه شريف، د هغوئي ويښته مبارك، او د هغوئي د استعمال لوښي وغيره چې ميلاؤ شي نو مونږه داسې څيزونه ښکلوو، سترګو ته ئې لګوو، په سر ئې کېږدو، [د بَرَکت حاصلولو د پاره] لاس وروږو او په خپل بدن ئې راښکاږو، او د دغه تَبَـرُّکاتو په وسيله د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښې دُعا کوو.

## لوټ کوونکي مُحافظان جوړ شو

د عربو يو شاعر **دِعبَل خُزاعي** تير شوے دے. يو ځل هغه د اهلِ بيتو په شان کښې قصيده اوليکله او د امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو.

امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سَيِّد زاده دے، د سَيِّدُ الشُّهداء مظلومِ کربلا، امام حُسين

رَضِیَ اللہُ عَنْہ په اولاد کښې دے، د امام موسٰی کاظِم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ صاحبزاده او د سلسله عاليه قادريه اتم بُزُرګ دے. هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په 153 هجري کښې په مدينه منوره کښې پيدا شو او د 50 کالو په عمر کښې 203 هجري کښې ئې د دُنيا نه سفر اوکړو. لوئ عالِم، فاضِل، مُتَّقـي، پرهيزګار، عبادت ګزار او باکرامته ولي وو. (1)

**دِعبَل خُزاعـي** امام علي رضا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ته هغه قصيده واوروله، ډيره شانداره قصيده وه، هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ چې واوريدله نو ډير خوشحاله شو. د هغه وخت خليفه مامونُ الرَّشيد هم هلته موجود وو، هغه چې امام علي رضا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ خوشحاله اوليدلو نو **دِعبَل خُزاعـي** ته ئې پنځوس زره ديناره (يعني د سرو زرو سِکّے) د انعام په طور ورکړې. دِعبَل انعام قبول کړو او امام علي رضا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ته ئې عرض اوکړو: اے زما سرداره! خواهش لرم چې د خپل استعمال يوه کپړه ما ته را عطا کړئ چې زه ئې خپل کفن جوړ کړم. امام علي رضا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د هغه خواهش پورا کړو او يوه کُرته او يوه توليه ئې هغه ته ورکړه او ورته ئې اوفرمائيل: **دا سنبال ساته، دا به ستا حفاظت کوي.** دِعبَل وائي: زما عراق ته د تللو ضرورت پيښ شو، ما د امام علي رضا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ مبارکه کُرته او توليه هم ځان سره واخستله او قافلے سره روان شوم. په لاره کښې ناڅاپه په مونږ باندې ډاکوانو حمله اوکړه او د قافلے ټول سامان ئې لوټ کړو او ځان سره ئې يوړلو، زما هم ټول سامان لوټ شو. زه د لارې په غاړه پريشان حال کښيناستم چې، هائے افسوس! دومره قيمتي کُرته او توليه مبارکه راته په قِسمَت په لاس راغلي وه هغه هُم رانه ډاکوانو واخستله، ما ته بيا بيا د امام علي رضا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ نصيحت را ياديدلو چې "دا سنبال ساته، دا به ستا حفاظت کوي" افسوس! ما سنبال اُونه ساتلے شوه.

---

[1] ...شرح شجرهٔ قادريه، صفحه:63، خلاصةً.

زه په دې پرېشانئ کښې ناست ووم او سوچ مې کولو چې د ډاکوانو سردار په اس سور بيرته راغے، شا ته ورپسې نور ډاکوان هم راغلل، د حيرانتيا خبره دا وه چې زما هغه ليکلې شوې قصيده کومه چې ما امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته اورولې وه هُم هغه قصيده د ډاکوانو سردار هُم وئيله، زه حيران شوم چې ډاکو او د اهلِ بيت سره داسې محبت...! ما موقع اوموندله او خپل تعارُف مې ورته اوکړو، چې هغه ته دا معلومه شوه چې زه دِعبَل خُزاعـي يم او د اهلِ بيت په شان کښې دا قصيده ما ليکلې ده نو د اهلِ بيتو محبت د ډاکوانو په سردار غالب شو، هغه د عقيدت په جوش کښې قافلے والؤ ته ټول سامان بيرته ورکړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه ما ته د امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کرته او توليه مبارکه بيرته ميلاؤ شوه. د الله پاک په فضل د تَـبَـرُّکاتو برکت اوګورئ چې! هُم هغه ډاکوان چې اوَّل ئې زمونږ ټول مال و اسباب لُوټ کړے وو، زمونږه مُحافِظان جوړ شو او په خپل حفاظت کښې ئې ټوله قافله منزل ته اورسوله. [1]

صدقِ صادِق کا تَصَدُّق صادِقُ الاِسلام کر
بے غضب راضی ہو کاظم اور رضا کے واسطے

**د شعر وضاحت:** اے الله پاکه! د امام جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د صِدق (يعني رښتوني کيدلو) په خاطِر ما پوخ رښتونے مسلمان جوړ کړې او د امام موسٰی کاظِم او امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِما په برکت په ما غضب مه کوې او بےحسابه رانه راضي شې.

## د الله محبوب بندګان او د هغوئې تَـبَـرُّکات

**اے عاشقانِ اهل بيت!** تاسو اوليدل چې! د امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د کُرتے او توليه په برکت الله پاك د قافلے والؤ د ځان او مال او سامان حفاظت اوفرمائيلو او د هغوئې

[1] ...شَوَاہِد نَبُوت، صفحه:344، خلاصةً۔

حفاظت د داسې ځائے نه اوشو چې د هغوئي په وهم و ګمان کښې هم نه وو. بيشکه **الله** پاك د لويو قدرتونو والا دے، د خپلو نيکو بندګانو سره مَحبَّت کوي، د هغوئي په برکت او هغوئي سره د نِسبَت لرونکو څيزونو په برکت غټ غټ مشکلات حل کوي. شاه وَلِـيُّ الله مُحَدِّث دِهلَوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې کله بنده د **الله** پاک محبوب جوړ شي نو ❁**الله هغه د خپل رحمت په نظر کښې ساتي ❁هغه بنده د آسمانونو ناوَک** [يعني د واده ځلمے] **وي ❁ د الله محبوب بنده چې کوم ځائے کښې وي، هلته فرښتے را کوزيږي ❁ هلته د نُور رنړاګانې وي ❁ د الله پاك رحمت هر وخت د هغه شامِلِ حال وي ❁ کوم څيز چې د اللّٰه د محبوب بنده سره نسبت لري، د الله رحمت په هغه څيز هُم نازليږي**، ځکه د اللّٰه پاک د محبوبو بندګانو سره نسبت لرونکي څيزونه، د هغوئي جامے [يعنې کپړے] د عامو خلقو د جامو نه، د هغوئي استعمال شوي لوښي د عامو خلقو د لوښو نه، د هغوئي د لـمانځه ځائے د عامو خلقو د لـمانځه د ځائے نه، د هغوئي کور د عامو خلقو د کورونو نه او د هغوئي قبرونه د عامو خلقو د قبرونو نه اعلٰى او مُـمتاز وي. (1)

د اعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والدِ مُحترم مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عبادت د برکتونه په بيان کښې ليکي: کوم بنده چې کثرت سره د اللّٰه پاك عبادت کوي، **الله** پاك هغه داسې برکت والا جوړوي چې خلق د هغه د اوسيدلو د ځائے او جامو نه برکت او فائدے حاصلوي. (2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

[1]...فُيُوضُ الْحَرَمين (مترجم)، صفحه:60، خلاصةً۔

[2]...اَنْوارِ جمالِ مصطفٰے، صفحه:334، خلاصةً۔

## په قرآنِ کریم کښې د "تَبَـرُّکاتو" ذِکر

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** **اللّٰه** پاك په قرآنِ کریم کښې د خپلو محبوبو بندګانو سره د نسبت لرونکو څیزونو کثرت سره ذِکر کړے دے. په قرآنِ کریم کښې د تَبَـرُّکاتو د پاره درې ټکي راغلي دي: **(1) اَثَر (2) سَکِیْنَه (3) شَعَآئِرُ الله**

## (1)وړومبے لفظ "اَثَر" او د دې وضاحت

په بنـي اسرائیلو کښې یو کس وو، موسٰی سامري. د عبرت خبره اوګورئ! په یو وخت او یو ځائے او یو قوم کښې په یو نوم دوه کسان وو خو کارونه د دواړو مختلف وو: (1) یو حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام دا د **اللّٰه** پاك خوږ نبـي دے. (2) بل موسٰی سامري، دا کافر منافق وو. چې کله **اللّٰه** پاك موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام ته تَوریت ورکولو د پاره **هغوئي** عَلَیْهِ السَّلَام کوهِ طُور ته را اوبللو، نو هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام 40 ورځې هلته تشریف فرما وو، دلته سامري د بنـي اسرائیلو نه ټول کالي [سره زر، سپین زر] راټول کړل، هغه ئې ویلي کړل او سخے ئې ترینه جوړ کړو، ښکاره خبره ده چې هغه سخے بے ساه وو، نه ئې آواز وِیستلے شو او نه ئې حرکت کولے شو، خو سامري سره یو عجیبه څیز وو، هغه ئې چې د سخي په خُله کښې کیښودو نو هغه ژوندے شو او آوازونه ئې شروع کړل. سامري بنـي اسرائیلو ته اووئیل: دا سخے ستاسو خدائے دے، د دې عبادت کوئ.[1] (**اَسْتَغْفِرُ اللّٰه**... **اَسْتَغْفِرُ اللّٰه**) هلته حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام ته په کوهِ طور کښې د سامري د شرارتونو خبر اوشو، هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام د جلال په کیفیت کښې بیرته راغلو او د سامري نه ئې تپوس اوکړو:

---

[1]...تفسیر صِراطُ الجنان، پارہ:9، سورۂ اَعْرَاف، تحت الآیۃ:148، جلد:3، صفحہ:435، خلاصۃً۔

| | |
|---|---|
| فَمَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ﴿۹۵﴾ (پاره:16،طٰهٰ:95) | مفهوم ترجمه کنزالايمان: ستا څه حال دے اے سامري- |

يعنې اے سامري! تا داسې ولے اوکړل؟ د دې وجه اُووايه. [1] سامري اووئيل:

| | |
|---|---|
| بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوْا بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا (پاره:16،سورهٔ طٰهٰ:96) | مفهوم ترجمه کنزالايمان: ما هغه څه ليدلي وو کوم چې خلقو نه وو ليدلي نو يو موټے مې را ډك کړو د فرښتے د نښې نه بيا مې هغه واچوله. |

يعنې اے موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام! ما هغه څه ليدلي وو کوم چې بني اسرائيلو ته نه ښکاريدل، ما جبريل عَلَيْهِ السَّلَام اوليدلو او هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام مې اوپيژندلو، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام په اس سور وو، ما د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د اس د ښپې د چاپ نه يو موټے ډك کړو، بيا مې د دې سخي په خُله کښې واچولو نو د هغې په سبب دا سخے ژوندے شو او آوازونه ئې شروع کړل. [2]

**اے عاشقانِ رسول! اوګورئ!** قرآنِ کريم د حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د اَس ښپو سره لګيدلي خاورې د پاره د "**اَثَر**" لفظ استعمال کړے دے. حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاك خوږ بنده دے، هغه بيشکه برکت والا دے، خو واسطے اُوشميرئ: حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام سره د اَس نسبت اوشو، د اَس د ښپو خاورې سره نسبت اوشو، نو په هغه خاوره کښې **الله** پاك دومره تاثير واچولو چې د هغه خاوره د يو بےساه سخي وجود ته اولګيدله نو په هغه کښې ساه پيدا شوه او آوازونه کول ئې شروع کړل. **اَللّٰهُ اَکْبَر!** معلومه شوه چې تَبَرُّکات ژوندي کول کوي. **د دې په برکت مړه زړونه ژوندي کيږي، مړو قومونو ته ترقي نصيب کيږي** او الله پاك په دې تَبَرُّکاتو کښې په مړي

---

[1] …تفسير صراط الجنان، پاره:16، سورهٔ طٰهٰ، تحت الآية:95، جلد:6، صفحه:235۔

[2] …تفسير صراط الجنان، پاره:16، سورهٔ طٰهٰ، تحت الآية:95، جلد:6، صفحه:235، بتغير۔

کښې د ساه اچولو طاقت هم پيدا کوي.

## دا شان د خدمتګارانو دے

**اے عاشقانِ رسول!** په دې ځائے کښې يوه بله د ايمان نه ډکه نُکته ده. د حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلام د آس د ښپو سره لګيدلي خاوره بے ساه څيز کښې د ساه اچولو اثر لري، دا حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلام څوك دے؟ د فرښتو سردار او زمونږ د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خادم دے. نو بيا به مونږه ولې نه وايُو-

چاہیں تو اشاروں سے اپنے کایا ہی پلٹ دیں دُنیا کی
یہ شان ہے اُن کے غلاموں کی سرکار کا عالم کیا ہو گا

[د شعر مفهوم: يعني د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامانو ته **الله** پاک دومره طاقت ورکړے دے چې که هغوئي اوغواړي نو د دُنيا حالت به بدل کړي نو بيا پخپله د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شان به څه حال وي]

**الله! الله!** اندازه اولګوئ! چې کله د خادم د آس د ښپو سره لګيدلي خاوره داسې ده نو د الله نِعمَت ، مصطفٰی جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك قدمونه په کومه خاوره لګيدلي وي د هغه خاورے مرتبه به څومره وي.

نو اے **عاشقانِ رَسُول!** غور اوکړئ چې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خادِم د اس د ښپې لاندې راغلې خاورې دا شان دے نو د **الله** پاک د خوږ محبوب د ټولو نبيانو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قدم مبارک سره لګيدلي خاورې مبارکې به څومره اعلٰی شان وي-

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## (2) دويم لفظ: سَکِيْنَه او د دې وضاحت

دويم لفظ چې په قرآنِ کريم کښې د تَبَرُّکاتو د پاره استعمال شوے دے : هغه لفظ دے ''سَکِيْنَه''، د دې لفظي معنٰی ده: زړه ته اطمينان او سکون ورکولو والا څيز.

د تابوتِ سکينه مشهوره واقعه ده، **اللّٰه** پاك د قرآنِ کريم د دويمې سيپارے په آخِره کښې دا واقعه بيان کړې ده، داسې اوشو چې حضرت طالُوت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَيْه د بنـي اسرائيلو بادشاه مقرر کړے شو، بنـي اسرائيلو د دې فيصلے مخالفت اوکړو چې طالُوت خو غريب دے، دا بادشاه څنګه کيدے شي؟ په دې باندې د هغه وخت نبـي حضرت شمويل عَلَيْهِ السَّلَام د اللّٰه په حکم اوفرمائيلو:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اٰيَةَ مُلْكِهٖۤ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ فِيْهِ سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ<br>(پ2، البقرة:248) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان : د ده د بادشاهئ نښه دا ده چې را به شي تاسو ته يو تابوت چې په هغې کښې ستاسو د رب له طرفه د زړونو اطمينان دے. |

دلته په تابوت کښې دننه څيزونو ته اللّٰه پاك **سَكِيْنَه** اوفرمائيل، په صندوق کښې څه وو؟ دا هم قرآنِ پاك بيانوي:

| | |
|---|---|
| وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ اٰلُ مُوْسٰى وَاٰلُ هٰرُوْنَ<br>(پاره:2، سورۂ بقره:248) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او څه پاتې څيزونه د مُـعَـزَّز موسٰی او مُـعَـزَّز هارون په ترکه کښې |

په تفسير **صِراطُ الْجِنان** کښې دي: په هغه تابوت کښې د توريت شريف د تختو ټکړے، د حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام جامے، د هغوئي نعلين (يعني پيزار) مبارك، د حضرت هارون عَلَيْهِ السَّلَام عِمامه او د هغوئي عصا مبارکه وه. بنـي اسرائيلو ته به چې کله څه مشکل پيښ شو نو هغوئي به دا تابوت مخې ته کيښودلو او دُعا به ئې کوله، د هغوئي دُعا به قبليدله، او د هغه تابوت په برکت به هغوئي ته په جنګونو کښې فتح نصيب کيدله.(1) معلومه شوه چې د اللّٰه محبوبو بندګانو سره نسبت لرونکو څيزونو کښې د زړه سُکون

---

1…تفسير صراط الجنان، پاره:2، سورۂ بقره، تحت الآية:248، جلد:1، صفحه: 373، بتغير۔

دے، د دې [تَـبَـرُّکاتو] په برکت مصيبتونه لرې کيږي، دُعا قبليږي او د الله پاك ډير ډير رحمتونه نازليږي.

## (3) لفظ "شَعَائِرُ الله" او د دې وضاحت

دريم لفظ کوم چې قرآنِ کريم د تَـبَـرُّکاتو د پاره استعمال کړے دے، هغه "**شَعَائِرُ الله**" دے، د **شَعَائِرُ الله** معنٰى ده: د **الله** نښې. په قرآنِ کريم کښې دا لفظ څلور ځله راغلے دے. مُفسّرِ قرآن، حضرت مفتى احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ❁هر هغه څيز چې **الله** پاك د دِينِ اسلام يا د خپل قدرت يا رحمت علامت قرار کړے دے ❁هر هغه څيز چې هغې ته دِيني عظمت حاصل دے، يا د هغې تعظيم د مسلمان کيدلو علامت وي، هغه **شَعَائِرُ الله** دي. په يو مقام کښې فرمائي: انبيائے کرام، اوليائے کرام او علمائے دين هم په **شَعَائِرُ الله** کښې داخل دي بلکه دا خو **شَعَائِرُ الله** جوړولو والا دي يعني د کوم څيز چې د دوئي سره نسبت اوشي هغه **شَعَائِرُ الله** جوړيږي مثلاً ❁ کعبه شريف په دې وجه مُعَظَّمه شوه چې دا د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام سره نسبت لري، حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د دې جوړوونکے، حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په جوړولو کښې مدد کوونکے او خوږ نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې سره محبت کړے دے، ❁ عرفات (کوم ځائے چې حج کيږي)❁ مِنٰى (کوم ځائے چې حاجيان قرباني کوي هغه) په دې وجه برکت والا دي چې دغه ځايونه **الله** والؤ سره نِسبَت لري، په مِنٰى کښې د **الله** پاک دوو نيکو بندګانو حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم عَلَيْهِ السَّلَام او حضرتِ سَيِّدُنا حضرتِ اِسمٰعِيل عَلَيْهِ السَّلَام قرباني پيش کړي وه.[1] ❁ دغسې **الله** پاك صفا او مَروٰى ته هُم **شَعَائِرُ الله** وئيلي دي، ارشاد فرمائي:

---

[1] ...مواعظ نعيميه، صفحه: 221 بتغير۔

اِنَّ الصَّفَا وَ الْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآىٕرِ اللّٰهِۚ (پارہ:2،سورۂ بقرہ:158)

مفهوم ترجمه كنزالايمان: بيشكه صفا او مَروٰی د **الله** د نښو نه دي.

يعني صفا او مَروٰی دوه مُقَدَّسې غونډۍ دي کوم ځائے چې د حضرتِ سَیِّدُنا اسماعيل عَلَيْهِ السَّلام والده ماجِده حضرتِ سَیِّدَتُنا هاجِره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا د اوبو په لټون کښې ووه چکرې لګولي وې. دا دواړه غونډۍ د کعبے شريفې خوا ته نِزدې دي، تر قيامته پورې چې کوم بنده حج کوي، عمره کوي نو په هغه د حضرتِ هاجِره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا په ياد کښې په دې دوو غرونو کښې ووه 7 چکرې لګول [او بعضې ځائے کښې] منډې وهل لازِم دي. معلومه شوه چې د انبيائے کرامو، اوليائے کرامو او د **الله** پاک د نيکو بندګانو تَبَـرُّکات عظمَت والا څيزونه دي او د دې تعظيم کول د دين نښه ده.

## د تَبَـرُّکاتو تعظيم د زړه د تقوٰی علامت دے

قرآنِ کريم د شَعَآىٕرُ الله تعظيم کولو ته د زړه تقوٰی وئيلي ده، ارشاد فرمائي:

وَ مَنْ یُّعَظِّمْ شَعَآىٕرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ﴿۳۲﴾ (پ17،الحج:32)

مفهوم ترجمه كنزالايمان: او څوك چې د الله د نښو تعظيم اوكړي نو دا د زړونو د پرهيزګارئ نه ده.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!	صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## تَبَـرُّکاتو نه د برکت حاصلولو حکم

بُخاري شريف، حديث نمبر 2889: د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خادِم حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روايت دے: يوه ورځ د **الله** پاک آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خيبر نه بيرته راتللو، صحابۂ کرام عَلَيْهِمُ الرضوان هم ورسره وو، مدينے

منورے ته چې نِزدې شو، د اُحد غر ښکاره شو نو خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُحد باندې د مَحبَّت نظر واچولو او اوئې فرمائيل: هٰذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهٗ دا غر زمونږ سره مَحبَّت کوي او مونږه د دې سره مَحبَّت کوو.[1]

اَللّٰهُ اکبر! قربان شم د اُحد په قِسمَت! مونږ د کلونو نه د غلامِۓ رَسُول نعرے لګوو، قِسمَت والا خو هغه دے څوک چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قبول کړو.

| | |
|---|---|
| الله کا محبوب بنے جو تمہیں چاہے | اس کا تو بیاں ہی نہیں کچھ تم جسے چاہو |
| چې تا سره کوي مِينه هغه شي د رب محبُوب | چې ستا ورسره مينه وي د هغه به وي څه شان |

څوك چې حُضُورِ اَکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مَحبَّت کوي، او حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې چا ته خپل محبوب اووائي، يقيناً د هغه شان، مقام او مرتبه ډيره اوچته ده، خو دلته چې کومه اَهَمه نُکته ده، په هغې باندې د ځان پوهه کولو او زړه ته د کوزولو ضرورت دے هغه دا چې اُمَّت ته زمونږ د خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه عاشق سره څنګه سُلُوک ساتل پکار دي؟ جامِع صَغير، حديث: 239 کښې نبـي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُحُد غر سره د محبت اِظهار کړے دے، د دې نه پس ئې اوفرمائيل: **فَاِذَا جِئۡتُمُوۡهُ** يعني چې کله تاسو اُحُد غر ته راشئ **فَكُلُوۡا مِنۡ شَجَرِهٖ** نو د دې د ونے پاڼې (د تبرك په طور) خورئ![2]

**اَللّٰهُ اکبر! اَللّٰهُ اکبر!** غور اوکړئ! په ظاهره بے ساه ښکاريدونکے غر د آخري نبـي، مکي مدني مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت کوي نو برکت والا جوړ شو، نو بيا

---

1 ...بخاری، جهاد و سِیَر کی کتاب، باب فضل خدمتِ...الخ، صفحه:746، حديث:2889۔

2 ...جامع صغير، صفحه:21، حديث:239۔

اووائي! آيا غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت نه کولو، آيا داتا علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت نه کولو، آيا خواجه مُعينُ الدِّين، بابا فريدُ الدِّين، شاه امام احمد رضا خان، مولانا نعيمُ الدين مراد آبادي، مفتـي امجد علي اعظمي، ضياء الدين مَدَني، مفتـي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِمْ او نورو بُزُرګانِ دين، اوليائے کرامو، آيا دې ټولو به د آقا کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت نه کولو؟ ضرور ئې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مَحبَّت کولو. قَسَم په خُدائے! دا ټول عاشقانِ رَسُول وو او دې ټولو حضراتو به خلقو ته **رَسُولُ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د مَحبَّت کولو درس ورکولو، که اُحُد غَر بابرکته کيدے شي نو آيا دا اوليائے کرام بابرکته نه شي کيدے؟ بيا اوګورئ! د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د محبت نسبت خو د اُحُد غر سره اوشو نو اُحُد غر بابرکته شو، خو حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې غر باندې د زرغونو شوو ونو د پاڼو خوړلو او د هغې نه د برکتونو حاصلولو حکم کړے دے. معلومه شوه څوك چې د محبوبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې مقبول شو، هغه پخپله خو برکت والا دے خو ورسره ورسره د هغه څيز سره نسبت لرونکي څيزونه هم بابرکته شو او زمونږ سردار، مکِّـی مَدَنـی سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا غواړي او د دې خبرې ترغيب هُم ورکوي چې دا څيزونه دِ بابرکته اوګنړلے شي او د دې نه دِ برکتونه هُم حاصل کړے شي.

بيا خبره صرف په دې ځائے ختمه نه شوه بلکه په حديثِ پاك کښې د دې نه وړاندې هم حکم ورکړے شوے دے، فرمائي: **وَلَوْ مِنْ عَضَاهِهٖ** اګرچې د اُحُد غر د ونې صرف ازغي ميلاؤ شي (د برکت د پاره هغه جُووئ). (1)

[1]...جامع صغير، صفحه:21، حديث:239۔

علامه مناوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: غنے د جوولو څيز نه دے، د دې جوولو د پاره ډير مشقت پيخيږي، د فرمانِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم مطلب دا دے: اُحد غر چې بابرکته دے، د دې سره نسبت لرونکو وَنو نه که برکت په آسانه نه شئ اخستے نو ځان په مشقت کښې واچوئ او برکت حاصل کړئ! (1)

معلومه شوه چې د تَبَـرُّكاتو د زيارت [يعنې ليدلو] د پاره، د هغې خوا ته تللو، په هغې لاس ايښودلو، د هغې ښکلولو د پاره په اوګږد قطار کښې اودريدل پيښ شي، مشکلات اتيرول پيښ شي نو بيا هم بنده له پکار دي چې ځان په مَشَقَّت کښې اچوي، مشکلات اوچتوي خو د تَبَـرُّکاتو نه د برکت حاصلولو موقع هيڅ کله هُم پريښودل نه دي پکار.

ارے اُو نا سمجھ! قربان ہو جاان کے روضے پر
یہ لمحے زندگی میں بار بار آیا نہیں کرتے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د تَبَـرُّكاتو په بركت امن نصيب كيږي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تَبَـرُّكات هيڅ كله معمولي مه ګنړئ. د دې په وسيله بيشميره بركتونه نصيب كيږي. تَبَـرُّكات د عذاب نه د بچ كيدو او په امن كښې د اوسيدلو ذريعه ده. په قرآنِ كريم كښې د مِصر ذِكر شوے دے، هلته به فرعون حكومت كولو، هغه د خدائي دعوٰی كړي وه، د **الله** پاک د نبـي حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام په مُقابَله كښې ئې تَكَبُّر اوكړو، سركشي ئې اوكړه، او په زمكه كښې ئې فساد خور كړو، **الله** پاك هغه او د هغه قوم په درياب كښې غرق كړو. قرآنِ مجيد اولولئ او ځان

---

1 ...فيض القدير، جلد:1، صفحه:239، تحت الحديث:239 مأخوذاً

پرېږ پوهه کړئ، ترجمۂ کنزُ الاِیمان، تفسیر خزائنُ العرفان، نورُالعرفان یا تفسیر صراطُ الجِنان اولولئ، او اوګورئ، **اللّٰه** پاك په سیپاره 8 **سورۂ اَعراف** کښې، سیپاره 19 **سورۂ شُعراء** کښې او نورو ډیرو مقاماتو کښې د کافِرو قومونو ذِکر کړے دے، چې په هغوئي عذاب راغلے وو، قومِ عاد کفر اوکړو په هغوئي عذاب د هغوئي په استوګنه [یعني خپل وطن] کښې راغے، قومِ ثمود کفر اوکړو، په هغوئي عذاب د هغوئي په استوګنه کښې راغے، قومِ لُوط کفر اوکړو په هغوئي عذاب د هغوئي په استوګنه کښې راغے، خو په فرعون باندې عذاب د هغه په علاقه [یعني مِصر] کښې رانغلو، هغه ئې د ښار نه ویستلو او په دریاب کښې ئې غرق کړو. علمائے کرامو د دې حِکمتونه لیکلي دي، یو حکمت ئې دا دے چې مصر بابرکته ځائے دے، هلته حضرت یوسُف عَلَیْہِ السَّلَام او د هغوئي د 11 ورونړه کوم چې د **اللّٰه** ولیان وو، د هغوئي مزارات دي، د هغوئي په برکت ئې مصر برباد نه کړو بلکه هلته اوسیدونکي کافران ئې اوویستل او په دریاب کښې ئې غرق کړل. په سیپاره 8 سورۂ اَعراف کښې اللّٰه پاك د فرعون د غرق کیدلو واقعه ذِکر کړې ده، د هغې نه پس ئې بیان کړي دي چې فرعون بنـي اسرائیل په زور خپل غلامان جوړ کړي وو، [او بیا] **اللّٰه** پاك هغوئي [یعني بنـي اسرائیل] د مصر د زمکې د مشرق او مغرب مالِکان جوړ کړل، **اللّٰه** پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِیْنَ كَانُوْا یُسْتَضْعَفُوْنَ مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَ مَغَارِبَهَا الَّتِیْ بٰرَكْنَا فِیْهَاؕ (پ9،الاعراف:137) | مفهوم ترجمه کنزالایمان: او مونږه هغه قوم کوم چې دباؤ کړے شوے وو د هغه زمکې د مشرق او مغرب وارِثان کړل په کومه کښې چې مونږه برکت ایښودے دے. |

مشهور مفسرِ قرآن، مفتی اَحمد یار خان نعیمی رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې آیت لاندې فرمائي: مصر د بربادئ نه محفوظه شو ځکه چې د حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلَام اولاد چې اولیاءُ اللّٰه

دي، د هغوئي قبرونه په مِصر کښې دي. (1)

## مزاراتِ اولياء د خلقو د پاره امان دي

حضرت يحيٰى بِن يحيٰى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه يو بُزُرګ تير شوے دے: امام حَسَن نيشاپوري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ زما قِسمَت رابيدار شو، ما ته په خوب کښې د آخِري نبـي رَسُولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو، ما اوليدل چې: خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت يحيٰى بِن يحيٰى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه. مزار ته تشريف راوړے دے، صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان هم ورسره دي، خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د امامت مُصَلّے ته تشريف راوړو او صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان شا ته صف جوړ کړو او د خوږ آقا اِمامُ الانبياء صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اقتداء کښې ئې لمُونځ ادا کړو. د لمَانځه نه پس خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د يحيٰى بِن يحيٰى مزار د دې ښار د اوسيدونکو د پاره امان [يعنې امن ورکولو والا] دے. (2)

## د تَبَـرُّکاتو په برکت توبه قبليږي

د بنـي اسرائيلو آبائي وطن مُلكِ شام وو، کله چې حضرت يوسُف عَلَيْهِ السَّلام د مِصر بادشاه جوړ شو، هغه وخت حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلام او د هغوئي اولاد مِصر ته راغلل. کله چې فرعون غرق شو، هغه وخت په مُلكِ شام باندې د قومِ عَمَالِقه قبضه وه. د فرعون د هلاك کيدو نه پس **اللّٰه** پاك بنـي اسرائيلو ته حکم اوکړو: مُلكِ شام ته لاړ شئ او د قومِ عَمَالِقه سره جهاد اوکړئ! او خپل آبائي وطن آزاد کړئ! بنـي اسرائيل د زړه نه راضي نه وو، هغوئي په نه زړه مجبوراً د جِهاد د پاره روان شو، آخر دا چې په مقامِ تِيَـه کښې هغوئي بے هِمَّتي ښکاره کړه او اوئې وئيل: اے موسٰى عَلَيْهِ السَّلام! تاسو او ستاسو

1...تفسير نعيمى، پارہ:9، سورۂ اعراف، تحت الآية:137، جلد:9، صفحه:160 بتغير قليل۔
2...سِيَرُ اَعْلَامِ النُّبَلاء، جلد:12، صفحه:292۔

رب لا ړ شئ! او جِهاد اوکړئ! مونږ به هُم دلته ناست يُو. **الله الله** داسې بے هِمَّتي......!!

[اوس غور اوکړئ چې] يو طرف ته بنـي اسرائيل دي چې په هغوئي باندې د آسمان نه طعامونه نازل شوي وو، د دې باوُجود هغوئي بُزدلي ښکاره کړه، بل طرف ته د خوږ آقا مصطفٰی جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فِدايان اوګورئ! چې کله صرف په کجورو ګزاره کوي، کله لوږه تيروي، د لوږې د سختې نه په خيټو باندې کاڼړي تړي، د دې باوُجود چې بدر ته اُوبللے شو نو بدر ته اورسيدل، چې اُحُد ته اُوبللے شو نو اُحد ته لاړل، کله د **313** لښکر په **1000** غالب شي، کله د خيبر دروازه د ستې خيژوي او کله د رُوم او اِيران دروازے ډبوي، بنـي اسرائيلو من او سلوٰی اوخوړل او بُزدلي ئې ښکاره کړه، صحابۀ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به اوږي اوسيدل خو د هغوئي د رُعب او دبدبے نه به د وخت غټ غټ بادشاهان رپيدل. د **الله** پاك ډير ډير رحمتونه دِ وي په هغه صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان باندې، چې ډير زيات مشکلات ئې برداشت کړي دي خو دين ئې پورا پورا غالب کړے دے.

خير! بنـي اسرائيلو بُزدلي ښکاره نو **الله** پاك هغوئي په مقامِ **تِيَه** کښې قيد کړل، هغوئي به سحر روان شو، ټوله ورځ به ئې سفر اوکړو، ماښام به چې اودريدل نو په هُم هغه ځائے به وو د کوم ځائے نه به چې روان شوي وو. **40** کالو پورې دا خلق هم هغلته قيد وو.[1] آخر دا چې د هغوئي دا قيد ختم شو، **الله** پاك هغوئي ته **بَيْتُ الْمَقْدَس** ته د تللو حکم اوکړو او هلته د تللو دوه آداب ئې ورته ارشاد کړل:

| | |
|---|---|
| **وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا** (پ:1، بقره:58) | مفهوم ترجمه کنز الايمان: او په دروازه کښې سجده کوونکي داخل شئ- |

[1]…عجائب القرآن، صفحه:32 خلاصةً-

يعني بَيْتُ المَقْدَس کښې د داخِليدلو په وخت کښې سجدهٔ شکر ادا کړئ! يا دا معنى ده چې په ښار ته داخليدلو وخت کښې سرونه ټيټ کړئ او په ادب داخل شئ. دويم حکم ورته دا شوے وو:

| | |
|---|---|
| وَّقُوْلُوْا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰیٰكُمْ ؕ (پ:1، بقره:58) | مفهوم ترجمه كنزالايمان: او اُووائې زمونږه ګناهونه مُعاف کړې نو مونږ به ستاسو خطاګانې معاف کړو. |

دلته يو تپوس دے: توبه که هر چرته اوکړے شي، اللّٰه پاك ئې اوري، ترينه خبر دے او وينى ئې، بيا بنـي اسرائيلو ته بَيْتُ الْمَقْدَس ته د ليږلو او د هغې په دروازه کښې د ګناهونو د مُعافـئ غوښتلو او ښار ته داخليدلو وخت کښې په ادب د سر ټيټـولو حکم ولے ورکړے شو؟ د دې په جواب کښې علمائے کرام فرمائي: بَيْتُ الْمَقْدَس بابرکته ځائے دے، هلته د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلام او اوليائے کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ عَلَيۡهِم مزارات دي. [1] معلومه شوه چې د اللّٰه پاک د نيکو بندګانو مزاراتو په خوا کښې د هغوئ په برکت توبه زر قبليږي، د دې نه دا درس هم حاصل شو چې چرته د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلام او اولياء عَلَيۡهِمُ الرَّحۡمَه مزارات وي د هغه ښار او زمکې هم ادب کول ضروري دي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!   صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د تَبَـرُّكاتو په وجه شِفا نصيب کيږي

د تَبَـرُّكاتو يو برکت دا هُم دے چې د دې په ذريعه اللّٰه پاك د بيمارو نه شِفا ورکوي. په سورهٔ يُوسُف کښې د حضرت يُوسُف عَلَيۡهِ السَّلام د قميص بيان شوے دے چې د حضرت يُوسُف عَلَيۡهِ السَّلام په جُدائې کښې په ژړا ژړا د حضرت يعقوب عَلَيۡهِ السَّلام د سترګو

[1] ...تفسير نعيمى، پاره:1، سورهٔ بقره، تحت الآية:58، جلد:1، صفحه:410 خلاصةً۔

په بينائي اثر شوے وو، د حضرت يُوسُف عَلَيۡهِ السَّلام قميص مبارك کوم چې د حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلام نه په وِرثه کښې ميلاؤ شوے وو، د حضرت يعقوب عَلَيۡهِ السَّلام په سترګو اولګولے شو نو څه اوشو واورئ! چنانچه **الله** پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَارۡتَدَّ بَصِيۡرًا ۚ (پاره:13، سورهٔ يوسف:96) | مفهوم ترجمه کنزالايمان: هم هغه وخت د هغوئ بِينائي بيرته راغله- |

## د وبائي مرض نه شِفا نصيب شوه

علامه مُلّا علي قاري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نقل کوي: يو ځل په بَغداد شريف کښې د طاعون مرض ظاهر شو او دومره ډير زيات شو چې هره ورځ به زر زر جنازے اوچتيدلې. خلق اويَريدل او د وليانو د سردار پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خدمت کښې حاضر شو او خپله پريشاني ئې بيان کړه. غوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: زمونږ د مدرسے نه چاپيره چې کوم واښه [يعني ګيا بوټي] دي، دا اوخورئ او په بدن ئې هُم اومږئ، **الله** پاك به د دې په برکت بيمارانو ته شِفا ورکړي. نور ئې اوفرمائيل: کوم کس چې زمونږ د مدرسے د کوهي نه اوبه اوڅښي، هغه ته به هم شِفا ميلاؤ شي. خلقو د هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په فرمان باندې عمل اوکړو نو شِفا ورته ميلاؤ شوه. راوي وائي: د هغې نه پس د غوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په ظاهري ژوند کښې کله هم په بَغداد کښې طاعون نه دے راغلے. (1)

## د ګلونو په اَميل کښې د هر مرض شِفا ده

په "حياتِ اعلٰى حضرت" کښې دي: د سيد ايوب علي صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه سره د اعلٰى

---

[1]...تَفۡرِيۡحُ الخَاطِر، صفحه:43-

حضرت امام اهلسُنَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عطا کړي ګولونه وو، فرمائي: تر څو چې دا تَبَرُّك زما سره موجود وو ما ته د هيڅ قِسمه دوائي ضرورت نه دے پيښ شوے، که په سر به مې درد شو نو هغه ګولونه به مې ميده کړل او په تندي به مې پورې کړل، که تبه، زُکام، ټوخے وغيره به مې وو نو هغه ګولونه به مې ميده کړل، په اوبو کښې به مې ګډ کړل او هغه اُوبه به مې اوڅښلې نو د **الله** پاك په کرم به مرض لرې شو.[1]

## د تَبَرُّکاتو په برکت ئې د لَمانځه پابندي نصيب شوه

**اے عاشقانِ رسول! اَلْحَمْدُ لِلّٰه** د تَبَرُّکاتو په برکت د ګناهونو مريض هم شِفا مومي. د پير مِهر علي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په باره کښې منقول دي: يو کس چې د هغه نوم خدا بخش وو. هغه د انګريزئ تعليم حاصل کړے وو او د انګريزانو سره نوکر وو. [هغه کس پخپله] وائي چې: د انګريزانو د نوکرئ او د هغوئي د صحبت را باندي بد اثر اوشو او د لمُونځونو پابندي مې ختمه شوه. يوه ورځ د پير سَيِّد مِهر علي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شوم. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ما ته اُوفرمائيل: د څښلو اُوبه راوړه، چې ما راوړلې نو دوه ګوټه ئې پخپله اوڅښلې او باقي ئې ما ته راکړې، بس هغه د برکت والا اوبه مې چې اوڅښلې نو **الله** پاك د لمُونځونو داسې پابند جوړ کړم چې د هغې نه پس رانه کله هُم لمُونځ نه دے قضا شوے.[2]

## د اوليائے کرامو د نومونو برکت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د اوليائے کرامو سره نسبت لرونکے هر څيز

---

1...حيات اعلیٰ حضرت، 3/205۔

2...مهر منير، صفحه:593۔

بابرکته دے. **اللّٰه** پاك د هغوئي په نومونو کښې هم برکت ايښودے دے. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم د مبارکو نومونو په برکت مشکلات حل کيږي او برکتونه نصيب کيږي. مُفَسِّرِ اُمَّت حضرت عبداللّٰه بِن عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُما نه روايت دے: (1) د **اَصْحَابِ کَهْف** (کوم چې د حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام اُمَّتيان او د لوئے مرتبے اولياء دي، اللّٰه پاك په قرآنِ کريم کښې د هغوئي په نوم يو پوره سورت "سورۂ کَهْف"نازل کړے دے، د هغوئي) د نومونو په برکت مُرادونه پورا کيږي او مصيبتونه لرې کيږي. (2) که ماشوم ژاړي نو د **اَصْحَابِ کَهْف** نومونه اوليکئ او د هغه د سر نه لاندې ئې کيږدئ، **اِنْ شَآءَاللّٰه** کرم به اوشي. (3) د فصل د حفاظت د پاره په پټي کښې يو لرګے اُودروئ او د **اَصْحَابِ کَهْف** مبارك نومونه په کاغذ اوليکئ او هغه لرګي ته ئې زوړند کړئ. (4) که په چا ميعادي تبه راځي (5) که څوک په مال کښې برکت غواړي، (6) مال د غلا نه ساتلو د پاره (7) که په سمُندر کښې سفر کول وي، د ډوبيدلو نه د بچ کيدلو د پاره د **اَصْحَابِ کَهْف** مبارك نومونه اوليکئ او ځان سره ئې کيږدئ! **اِنْ شَآءَاللّٰه** د دې به ډير ډير برکتونه درنصيب شي.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** که تاسو د **اَصْحَابِ کَهْف** نومونه ښکپله نه شئ ليکلے نو پريشانه کيږئ مه، **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** د دعوتِ اسلامي د شُعبه **روحاني علاج** د بستو نه د **اَصْحَابِ کَهْف** د مبارکو نومونو والا تعويز **فِی سَبِيْلِ اللّٰه** مِلاويږي، او د دې په برکت ډيرو **مريضانو** ته شِفا نصيب شوي ده.

## د اولياؤ نومونه او تَبَرُّکات په قبر کښې هم په کار راځي

اے **عاشقانِ اولياء!** ايمان تازه کوونکي خبره واورئ! د اوليائے کرامو مبارك

---

[1]...تفسير غرائب القرآن، پاره:15، سورۂ کهف، تحت الآية:22، جلد:4، صفحه:412۔

نومونه، هغوئ سره نسبت لرونکي څیزونه په دُنیا کښې هم او د مرګ نه پس په قبر کښې هم په کار راځي. ”**شجرهٔ قادریه رضویه عطاریه**“چې په هغې کښې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د 41 اولیائے کرامو نومونه لیك دي او د اشعارو په صورت کښې د هغوئ په وسیله دُعاګانې غوښتلے شوي دي، د هغه شجرے شریفې د برکت یو حکایت واورئ او ایمان تازه کړئ. اګست 2004ء کښې د پاکستان د مشهور ښار حیدرآباد یوه عَطّارِیَّه اسلامي خور وفات شوه. غسل ورکوونکي اسلامي خور د هغوئ خپلوانو زنانو ته ”**شجرهٔ قادریه رضویه عطاریه**“ورکړه او ورته ئې اووئیل: دا د دې په قبر کښې کیږدئ. د کور د سړو په ذریعه شجره شریف د هغې په قبر کښې کیښودے شوه. څه موده پس یوې خپلوانې اسلامي خور هغه مرحومه په خوب کښې په شانداره بستره باندې ناسته اولیدله، هغه ډیره خوشحاله ښکاریدله، مرحومه مُسکئ شوه او اوئې وئیل: دا شجره شریف واخله او هغې اسلامي خور ته ئې د شکریه ادا کولو سره بیرته ورکړه. دا د هغې امانت دے. د دې شجره عَطّارِیَّه په برکت ما ته په قبر کښې ډیر سُکون مِلاو شو. [1]

## د اولیائے کرامو افعال هم بابرکته دي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د اولیائے کرامو د لمانځه په ځایونو کښې لمونځ کول هم د تَبَرُّك یو صورت دے. شاه ولِیُّ اللّٰه مُحَدِّث دِهلوي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه فرمائي: څوك چې زړه پاك کول او نیك جوړیدل غواړي هغه دِ دوه کارونه کوي: (1) د پاك او صفا اوسیدلو اهتمام دِ کوي (2) او زاړه جماتونه کوم ځائے چې اولیائے کرامو

[1] ...شرح شجره قادریه رضویه عطّاریه، صفحه:159۔

لمُونځونه ادا کړي وي، هلته دِ لمُونځونه ادا کوي. (1)

دغسې کوم کار چې **الله** والؤ شروع کړے وي، هغه کار کول مثلاً د يولسمې شريفې محفل مُنعَقِد کول، قصيدهٔ بُرده شريف لوستل، د دُرُودِ تاج وظيفه کول وغيره هم د برکت حاصلولو ذريعے دي. **اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه**! په موجوده دور کښې د اوليائے کرامو د "تَـبَـرُّکاتو" فيضان ښه عام کولو او د خلقو په زړونو کښې د تَـبَـرُّکاتو مَحبَّت زياتولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي واضِحه کردار ادا کړے دے. د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول يو صفت دا دے چې په دې ماحول کښې د اوليائے کرامو د "تَبَـرُّکاتو" د اداب او احترام کولو او د هغې نه د برکتونه حاصلولو ترغيب ورکولے کيږي، او ورسره ورسره د "کردارِ اولياؤ" نه هُم برکتونه حاصلولو او د اوليائے کرامو د اداګانو اختيارولو هم ډير تربيت ورکولے کيږي. مثلاً د دين د تبليغ د پاره د کوره وتل او د دين په لاره کښې قربانئ ورکول د اوليائے کرامو محبوب عمل دے، د اوليائے کرامو د دې "ادا" د برکت حاصلولو او سُنتونه عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي زرګاؤ عاشقانِ رسول مدني قافلو کښې سفر کوي.

د اوليائے کرامو دا طريقه وه چې هغوئي به د نيکئ دعوت ورکولو، سُنَّتو باندې د عمل کولو د ترغيب ورکولو او د اِصلاحِ نَفس ذِهن ورکولو د پاره به کوڅه په کوڅه او کور په کور ګرځيدل او د دې د پاره به ئې يو يو کس سره ملاقات کولو، **اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه**! دعوتِ اسلامي والا هم د اِنفِرادي کوشش برکتونه حاصلوي، يو يو کور، يو يو دُکان ته ورځي، علاقائي دوره کوي او دغسې د اوليائے کرامو اداګانې ادا کوي.

## دولسو ديني کارونو کښې يو ديني کار "جُمات درس"

---

1...فيوض الحرمين (مترجم)، صفحه: 2625۔

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** درس ورکول د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام او اوليائے کرامو محبوب عمل دے، د **الله** پاك نبـي حضرت خَنُوخ عَلَيۡهِ السَّلَام به دومره ډير درس ورکولو چې د هغوئي لقب **اِدْرِيْس** (يعني درس ورکوونکے) اوګرځيدلو، زمونږه پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما به درس ورکولو ورکولو، تر دې چې **الله** پاك ما ته د **قُطۡبِيَّت** درجه راعطا کړه. د عاشقانِ انبياء و اولياء ديني تحريك دعوتِ اسلامي د جُمات درس، کور درس او چوك درس په صورت کښې دا ديني کار هم ډير عام کړے دے. د دعوتِ اسلامي دولسو دِيني کارونو کښې يو ديني کار "**جُمات درس**" هم دے. د دې ديني کار بےشميره ديني او دُنياوي فائدے دي، ❁ "**جُمات درس**" سره جماتونه آباديږي، ❁ "**جُمات درس**" سره د انفرادي کوشش کولو موقع نصيب کيږي. ❁ "**جُمات درس**" سره د لمُونځ کوونکو په شمير کښې اِضافه کيږي. ❁ د "**جُمات درس**" په برکت د نيکئ او خير خبرې زده کولو او نورو ته د زده کولو موقع نصيب کيږي. د دې په باره کښې د ډيرو فائده مندو معلوماتو د پاره د 52 صفحو رساله "**مسجد درس**" د **مَكۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنه** نه طلب کړئ. دا رساله د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه هم ډاؤنلوډ کولے شئ.

## د "جُمات درس" يو مدني سپرلے

د کوټ مومن (ضلع سرګودها) خوا ته د نِزدې کلي لليانې "ډيره محمد علي شيخ" اوسيدونکي د يو اسلامي ورور بيان دے: زه د ګناهونو په تِيارو کښې ورك ووم، د ګناهونو کولو په وجه زما زړه سخت شوے وو، بد نظري او د مور و پلار نافرماني کول زما معمول جوړ شوي وو، زما د ګناهونو ډك ژوند ته د هدايت رنړا داسې را اورسيدله چې يوه ورځ د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته د يو اسلامي ورور په دعوت باندې درس کښې شريك شوم، د درس الفاظو کښې داسې تاثِير وو چې زړه ته مې

کوز شو، د ګناهونو نه مې زړه تور شو، په تير ژوند مې افسوس اوکړو. آه! د ژوند يوه لويه حصه مې په غفلت کښې تيره شوې ده. د درس په ذريعه د نصيحت قيمتي ملغلرو زما زړه را ژوندے کړو، ما په هُم هغه وخت توبه اوکړه او آئنده د ګناه نه کولو پخه اراده مې اوکړه. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د يو څو ساعتونو د پاره زما په درسِ فيضانِ سُنَّت کښې شريك کيدل زما د ژوند او د آخرت د بِهترئ ذريعه جوړ شو. اوس زه عَطّاري يم، او پينځه وخته د جَمعې سره لمُونځ په وړومبي صف کښې د ادا کولو سعادت حاصلووم.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي." (1)

سينه تيری سُنَّت کا مدينہ بنے آقا　　جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

**سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا　　جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا**

## حِلم سُنَّتِ مُصطفٰی ﷺ دے

**اول دوه فرامِينِ مُصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **واورئ:** ﴿۱﴾ حِلم والا په دُنيا کښې هم سردار دے، په آخِرت کښې هم سردار دے،(2) ﴿۲﴾ د حِلم په ذريعه بنده د ورځې روژه

---

[1] …ابنِ عساکر ج۴ ص۳

[2] …جامع صغير، صفحه:233،حديث:3831۔

نيولو او د شپې د قيام (يعنې عبادت) کولو والا درجه حاصلوي. [1]

**اے عاشقانِ رسول!** حِلم سُنَّتِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، ❁ زمونږ خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کله هم بے ځايه غُصَّه نه ده کړې، ❁ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل ذات د پاره د چا نه هُم انتقام [يعنې بدل] نه اخستلو، ❁ تير شوو آسماني کتابونو کښې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا وَصف هم بيان شوے وو، ❁ حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره به چې څومره د جَهالت سلوك کيدلو، هم هغه همره به د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حِلم زياتيدلو. [2]

**د حِلم مُتَعَلِّق مدني ګلونه:** ❁ حِلم د **الله** پاك صِفَت دے، ❁ حِلم **الله** پاك ته محبوب دے، ❁ حِلم د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام سُنَّت دے، ❁ د حِلم معنٰی ده: قلاري، بُردباري (نرم مزاجي)، امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: تَحَمُّل (يعنې بُردباري) د غُصَّه ښښلو نه افضل دي ځکه چې د غُصَّه ښښلو ضرورت هغه چا ته وي د چا غُصَّه چې شديده [يعنې سخته] شي، او حِلم والا ته په غُصَّه کښې هډو جوش نه ورځي. [3]

**د حِلم مُتَعَلِّق مدني ګلونه:** ❁ حِلم په تَکَلُّف سره راځي (يعني بنده په کوشش سره غُصَّه ښبني نو په قلاره قلاره به ئې په طبيعت کښې حِلم پيدا شي.)❁ عِمامه تړلو سره هم حِلم زياتيږي، ❁ چيلۍ څرلو سره هم په طبيعَت کښې حِلم پيدا کيږي.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې**

---

[1] ...مَجْمَعُ الزَّوَائِد، کتابُ الْاَدب، باب حُسْنِ اَخلاق کے بیان میں، جلد:8، صفحه:19، حدیث:12687۔

[2] ...صِراط الجنان، جلد:2، صفحه:79۔

[3] ...اِحْیَاء العلوم مترجم، جلد:3، صفحه:535۔

# لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 . . . افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص ۱۵۱ ملخصًا

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيع اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

## جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣

3...تاريخ ابنِ عساكر، ١٩/١٥٥، حدى